# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعرات مورخہ 31 دسمبر 2009 بمطابق 13 محرم الحرام 1431 ہجری، سہ پہر چار بجکر پندرہ منٹ پر منعقد ہوا۔
جناب سپیکر، کرامت اللہ خان مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اسکا ترجمہ

اَعُوذُ بِٱللَّهِ مِنَ ٱلشَّيۡطَـٰنِ ٱلرَّجِيمِ۔ بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔

كُلُّ نَفۡسٍ ذَآئِقَةُ ٱلۡمَوۡتِ‌ۗ وَإِنَّمَا تُوَفَّوۡنَ أُجُورَڪُمۡ يَوۡمَ ٱلۡقِيَـٰمَةِ‌ۖ فَمَن زُحۡزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدۡخِلَ ٱلۡجَنَّةَ فَقَدۡ فَازَ‌ۗ وَمَا ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَآ إِلَّا مَتَـٰعُ ٱلۡغُرُورِ 0 لَتُبۡلَوُنَّ فِىٓ أَمۡوَٲلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ وَلَتَسۡمَعُنَّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَـٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَمِنَ ٱلَّذِينَ أَشۡرَكُوٓاْ أَذً۬ى كَثِيرً۬ا‌ۚ وَإِن تَصۡبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَٲلِكَ مِنۡ عَزۡمِ ٱلۡأُمُورِ۔ صَدَقَ ٱللَّهُ‌ۗ ٱلۡعَظِيم۔

(ترجمہ): ہر متنفس کو موت کا مزا چکھنا ہے اور تم کو قیامت کے دن تمہارے اعمال کا پورا پورا بدلا دیا جائے گا۔ تو جو شخص آتش جہنم سے دور رکھا گیا اور بہشت میں داخل کیا گیا وہ مراد کو پہنچ گیا اور دنیا کی زندگی تو دھوکے کا سامان ہے۔ (اے اہل ایمان) تمہارے مال و جان میں تمہاری آزمائش کی جائے گی۔ اور تم اہل کتاب سے اور ان لوگوں سے جو مشرک ہیں بہت سی ایذا کی باتیں سنو گے۔ اور تو اگر صبر اور پرہیزگاری کرتے رہو گے تو یہ بڑی ہمت کے کام ہیں و آخرُ الدعوَانا أَنِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَـٰلَمِينَ۔

## اراکین کی رخصت

<u>جناب سپیکر</u>: معزز اراکین کی طرف سے رخصت کی درخواستیں موصول ہوئی ہیں جوکہ میں آپ کی منظوری کیلئے پیش کرتا ہوں، اسماء گرامی ہیں: جناب محمد ظاہر شاہ خان، ایم پی اے 31-12-2009 یعنی آج کیلئے; جناب وجیہہ الزمان خان، ایم پی اے 31-12-2009 تا 06-01-2010; جناب تاج محمد خان ترند صاحب، 31-12-2009 تا 03-01-2010; جناب فضل اللہ صاحب، ایم پی اے 31-12-2009 تا 03-01-2010۔

Is it the desire of the House that the leave may be granted?

(The motion was carried)

<u>Mr. Speaker:</u> Leave is granted.

## مسند نشین حضرات کی نامزدگی

<u>Mr. Speaker:</u> Item No. 3. 'Panel of Chairmen': In pursuance of sub-rule (1) of rule 14 of the Provincial Assembly of the North-West Frontier Province, Procedure and Conduct of Business Rules 1988, I hereby nominate the following Members, in order of priority, to form a 'Panel of Chairmen' for the current session:

1. Mr. Ghani Dad Khan;
2. Dr. Zakirullah Khan;
3. Mr. Wajih-uz-Zaman Khan;
4. Hafiz Akhtar Ali Khan.

<u>جناب عبدالاکبر خان</u>: غنی داد خان! مبارک شه۔

<u>Mr. Speaker</u>: He is on Serial No.1.

<u>جناب جعفر شاہ</u>: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر۔

<u>جناب سپیکر</u>: ایک منٹ جی، ذرا یہ Complete ہونے دیں، پھر-----

<u>جناب جعفر شاہ</u>: جناب سپیکر، دا اهمه خبره ده، زمونږه دوه معزز اراکین اسمبلی شمشیر علی خان او خالد رضا زکوړی صاحب وفات شوے دی، د هغوی د مغفرت د پاره د اول دعا اوکړے شي۔

<u>Mr. Speaker:</u> One minute, please.

## عرض داشتوں کے بارے میں کمیٹی کی تشکیل

Mr. Speaker: Item No. 4. 'Committee on Petitions': In pursuance of rule 116 of the Provincial Assembly of North-West Frontier Province, Procedure and Conduct of Business Rules 1988, I hereby constitute a Committee on Petitions, comprising the following Members under the Chairmanship of Mr. Khushdil Khan, honourable Deputy Speaker:

1. Mr. Anwar Khan Advocate;
2. Mr. Wajih-uz-Zaman Khan;
3. Mr. Munawar Khan Advocate;
4. Ms. Shagufta Malik;
5. Ms. Uzma Khan;
6. Prince Javed.

الحاج حبیب الرحمان تنولی: جناب سپیکر، میں Personal explanation پر ایک بات کی وضاحت کرنا چاہتا ہوں۔

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): سپیکر صاحب!۔۔۔۔

جناب سپیکر: ایک منٹ جی، میں آپ کو دے رہا ہوں۔ جی درانی صاحب! اول هغه پاخیدلے دے، لږ دوئ له به موقع ورکړو جی۔ جی، بسم اللہ تنولی صاحب۔

جناب جعفر شاہ: جناب سپیکر صاحب، پوائنټ آف آرډر۔ شمشیرعلی خان او زکوړی صاحب وفات شوے دی، د هغوی د مغفرت د پاره د دعا اوکړے شی۔

الحاج حبیب الرحمان تنولی: جعفر خان صاحب دعا کا کہہ رہے ہیں تو دعا کر لیں۔

جناب عبدالاکبر خان: جی دونوں کیلئے دعا کر لیں۔

الحاج حبیب الرحمان تنولی: دونوں کیلئے۔

جناب سپیکر: وہ کرتے ہیں جی، وہ کرتے ہیں۔

جناب مختیار علی ایڈوکیٹ: جناب سپیکر، پوائنٹ آف آرڈر۔

جناب سپیکر: تنولی صاحب ته مے ټائم ورکړے دے جی۔ اودریږئ جی، د دے نه پس۔

جناب مختیار علی ایڈوکیٹ: خبره دا ده سپیکر صاحب، چه د ډاکټر شمشیر او د زکوړی صاحب خبره اوشوه نو دعا به هم اوکړو جی خو دا یو دغه دے چه د دے دواړو ممبرانو صاحبانو په دغه کښے د نن ورځے دا اجلاس 'ایډجرن' کول پکار دی، دا 'ایډجرن' کول پکار دی۔

جناب سپیکر: ښه جی۔ تنولی صاحب! تاسو څه وایئ؟ میرے خیال میں آج ہمارے دو Sittingایم پی ایز حضرات، ایک شہید ہوا ہے اور ایک۔۔۔۔۔

الحاج حبیب الرحمان تنولی: مختصر بات کرتا ہوں جی۔ دوسرے بھی بہت سے شہید ہوئے ہیں، دعا سے کسی کو انکار نہیں، دعا پہلے کر لیں تو کوئی بات نہیں۔

جناب سپیکر: نہیں آپ کیاExplanationکرنا چاہتے ہیں؟

الحاج حبیب الرحمان تنولی: میں یہ عرض کرنا چاہتا ہوں کہ یہ اجلاس جو شروع ہوا ہے تو اس سے پہلے پچھلے اجلاس کے دوران میں نے منسٹری سے استعفیٰ دیا ہے، میں اس کی تھوڑی سی وضاحت کرنا چاہتا تھا کہ ہم چھ آزاد لوگ تھے اور ایک گروپ تھا۔ ہمارے درمیان یہ 'انڈرسٹینڈنگ' تھی کہ میں 'سینیئر موسٹ' ہوں اور انہوں نے پہلے مجھے کام دیا اور میں نے وہ مکمل کیا۔ میں معزز ایوان کا شکریہ ادا کرتا ہوں کہ اس دوران میرے ساتھ انہوں نے مکمل تعاون کیا اور اگر کسی کی کسی سلسلے میں دل آزاری ہوئی ہو تو اس سے معذرت بھی چاہتا ہوں، اس کے ساتھ ساتھ تھوڑا سا میں شاکی ہوں، پی پی پی کے ساتھ ہمارا تعاون تھا، ان کے ساتھ ہمارا ایک اقرار تھا جو آج بھی ہے لیکن میں نے دیکھا ہے کہ بائیس تاریخ کو پارلیمانی پارٹی کی میٹنگ ہوئی ہے تو مجھے اس میں اطلاع نہیں دی گئی۔ اس سے پہلے ایک بار ہم پریزیڈنٹ ہاؤس گئے ہیں تو پریزیڈنٹ ہاؤس کے گیٹ سے آزاد اراکین کو واپس کیا گیا۔ ابھی این اے 21 کے ممبر فیصل محمد خان صاحب فوت ہو گئے ہے تو اس کیلئے الیکشن شروع ہونے والا ہے، داخلے ہو چکے ہیں، میرا حلقہ پی ایف 57 اس میں پورے کا پورا آتا ہے اور مجھ سےConsultنہیں کیا گیا۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: جناب تنولی صاحب!۔۔۔۔۔

الحاج حبیب الرحمان تنولی: میری بات سن لیں جی، میری بات سن لیں پلیز۔

جناب سپیکر: تنولی صاحب! جو آپ کی پہلی تھی وہ پوری ہو گئی۔

الحاج حبیب الرحمان تنولی: میں بات کو ختم کرتا ہوں، بات ختم کرتا ہوں۔ سپیکر صاحب!۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: یہ آج تعزیتی اجلاس ہے۔ اکرم خان درانی صاحب! تاسو په دے خبره کوله؟

الحاج حبیب الرحمان تنولی: آپ میری بات سن لیں جی۔

جناب سپیکر: آپ اکرم خان درانی صاحب کو، جی۔۔۔۔۔

الحاج حبیب الرحمان تنولی: جناب سپیکر! آپ میری بات سن لیں جی۔

جناب سپیکر: آج تعزیتی اجلاس ہے جی، بس آپ کی بات کافی لمبی ہو گئی نا، تو اس میں اتنا کافی تھا۔ جی، اکرم خان درانی صاحب۔

قائد حزب اختلاف: محترم سپیکر صاحب! مفتی صاحب به بیا دعا هم اوغواړی، زمونږه ډیر خواږه دوه ورونږه چه دلته په هاؤس کښے وو۔۔۔۔۔

(قطع کلامی)

جناب سپیکر: هم دغه وایم کنه جی۔۔۔۔

قائد حزب اختلاف: هغه وفات شوے دی، د هغوی په حق کښے به دعا اوکړو خو زه صرف یوه خبره، چونکه نن د اکتیس تاریخ سره د هغے تعلق دے، هغه زه ځکه پورته کومه چه نن د بلدیاتی نظام اخری ورځ ده او ما په اخبار کښے لیدلی دی چه د سبا نه به گورنمنټ هلته به ایډمنسټریټرز مقرروی او ډی سی اوز او ټی ایم اوز ته به د تحصیل چارج ورکوی، نو دیکښے خو جی که تاسو اوگورئ Sitting نظام چه دے په هغے کښے خو دا دی چه کله وخت پوره کیږی نو بیا به بلدیاتی الیکشن کیږی، نو چه نوی منتخب شی بیا به هغوی راشی، هغوی به حلف واخلی او بل به لاړ شی۔ اوس په دیکښے نه د دے پراونشنل اسمبلئ نه، ما ته خو په نظر نه دے راغلے چه دلته څه Amendment شوے دے، د دے اسمبلئ نه څه قانون سازی شوے وی او په هغے کښے ترامیم شوے وی؟ گورنمنټ د مونږه پوهه کړی چه دوئ سبا غیر قانونی ایډمنسټریټرز مقرروی نو د دے ورسره څه داسے قانونی لار شته؟ جمهوری خلق چه دی هغه په ووټونو باندے راغلی دی، ستاسو او زمونږه د ټولو بنیاد چه دے هغه بلدیاتی نظام دے، سړے کونسلر جوړ شی، د یونین کونسل ناظم جوړ شی او بیا چیف منسټر جوړ شی او بیا پرائم منسټر جوړ شی، اوس هغوی خو سبا ځی، د هغوی معیاد ختم دے چه مونږه څومره لیدلی

دی، حکومت د وضاحت اوکړی چه آیا دوئ د کوم طریقه کار لاندے سبا بل چا ته حلف ورکوی، ایډمنسٹریټرز مقرره وی؟ آیا د دے د پاره څه قانون سازی شوے ده او که نه؟

جناب عبدالاکبر خان: جناب سپیکر، دا۔۔۔۔

جناب سپیکر: جی عبدالاکبر خان۔

جناب عبدالاکبر خان: بس جی، زه Simpleخبره کوم چه کومے خبرے ته درانی صاحب۔۔۔۔

جناب سپیکر: بشیر بلور صاحب نشته؟

جناب عبدالاکبر خان: او جی۔ کومے خبرے ته چه درانی صاحب توجه راګرځولے ده، یقیناً چه نن د دے صوبے دا یوه ډیره اهم خبره ده جی۔ صرف شیډول 6thنه په اکتیس تاریخ د شپے باره بجے لوکل ګورنمنټ آرډیننس چه کوم دے، هغه د پریذیډنټ سره چه کوم 'پاؤرز' وو، په هغے کښے Amendmentد 268آرټیکل لاندے هغه نن ختم شو۔ هغه آرډیننس خو نن Intact دے خو چه سبا دوئ ایډمنسټریټرز نه مقررولے ځکه چه هغه آرډیننس کښے خو د ایډمنسټریټرز مقررولو څه ځائے نشته دےن نو تر څو پورے چه پراونشنل ګورنمنټ څه Amendments نه وی راوړی، زمونږه بشیر خان نشته دے او ډیره اهم خبره ده، پکار ده چه پراونشنل ګورنمنټ فوری طور باندے او دوئ که چرے واقعی ایډمنسټریټرز مقرروی، پکار ده چه فوری طور په هغے کښے Amendments راوړی ځکه چه تر څو پورے دوئ Amendments نه وی راوړی نو هغه قانون چه کوم د مخکښے نه رارواں دے، هغه خو Intactدے، چه هغه Intact دے نو په هغے کښے د ایډمنسټریټرز تصور نشته دے۔ هغے کښے خو دا وائی چه تر کومه پورے بل الیکشن نه وی شوے نو تر هغے الیکشن پورے به هم دا خلق Continue کار کوی۔ زمونږه ګورنمنټ ته دا درخواست دے، بشیر خان، پکار ده چه نن ډیره اهم ورځ وه، اکتیس تاریخ دے او بیا خاصکر نن تعزیتی اجلاس دے، کیدے شی د هغوی چرته ضروری Engagements وی هغے له تلے وی، زه دا نه وایمه جی خو زه کم ازکم دا وایمه چه که دا ایډ منسټریټرز Without amendment in

the Local Government Ordinance، نو بیا به د هغوی هغه انتخاب زما په خیال غیر آئینی او غیر قانونی وی۔

<u>جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ:</u> جنا ب سپیکر!

<u>جناب سپیکر:</u> جی سکندر خان۔

<u>جناب سکندر حیات خان شیرپاؤ:</u> زه ستاسو مشکور یمه جنا ب سپیکر، چه تاسو ما له موقع راکړه۔ اکرم درانی صاحب دا یو اهمه خبره اوچته کړے ده او واقعی دے وخت سره د دے یو خاص اهمیت په دے باندے دے چه نن دا دغه ختمیږی لګیا دے او دا به صوبے ته حواله کیږی او مخکښے نه د هغے یو فیصله کیږی لګیا ده۔ څنګه چه عبدالاکبر خان اووئیل چه نه لا قانون بدل شوے دے، نه په هغے کښے څه ترمیم راغلے دے او د هغے نه مخکښے دا اعلانات کیږی چه یره مونږه به ایډمنسټریټرز مقرروو۔ جناب سپیکر، که مونږه اوګورو نو د عوامی نیشنل پارټئ هم او د پارلیمنټرین هم همیشه نه دا یو دغه پاتے شوے وو چه دوئ به د لوکل ګورنمنټ د 'سپورټ' خبره کوله او مونږه دا طمع لرو چه کم ازکم دوئ به، ټهیک ده په دے سسټم کښے به بعضے خامئ وی، د هغے خامو د لرے کولو ضرورت به وی، ټهیک ده په هغے باندے مونږه ته اعتراض نشته خو جناب سپیکر، چه یو طرف ته مونږه وایو چه مونږه د جمهوریت دعویٰ لرو او مونږه جمهوریت مضبوطول غواړو او بل خواه ته مونږه پخپله د جمهوری خلقو نه اختیار اخلو او بیا واپس سرکاری خلقو له هغه اختیار ورکوؤ نو بیا دا د کوم ځائے د جمهوریت د مضبوطولو خبرے دوئ کوم لحاظ سره کوی؟ جناب، زما خو به په دے باندے دا دغه وی او پکار ده چه دا لوکل ګورنمنټ کمیټئ ته 'ریفر' کړے شی او دا Trash out کړے شی چه د دے د پاره کومه طریقه جوړه شی یا د دے د پاره څه، دے باندے یو 'سټینډ' اغستل ډیر ضروری دی۔

<u>جناب سپیکر:</u> ټهیک شوه جی۔ نګهت اورکزئی بی بی۔

<u>*محترمہ نگہت یاسمین اورکزئی:*</u> *شکریہ جناب سپیکر صاحب۔ جناب سپیکر، جو پوائنٹ اکرم درانی صاحب نے یہاں پر Raise کیا ہے تو اس کے ساتھ میں بھی متفق ہوں کہ بغیر کسی قانون کے بنائے ہوئے، آج بشیر بلور صاحب کی کچھ Commitments ہونگی جس کی وجہ وہ نہیں آئے ہیں لیکن چاہیئے تو یہ تھا کہ آج*

جب اجلاس شروع ہو رہا تھا تو یہ یہاں پر بتایا جاتا کہ ان کو، چونکہ وہ بھی اس میں آئے ہیں، جو کہ انتخابات لڑ کر آئے ہیں اور آپ کو پتہ ہے کہ ہر ایک کی اپنی ایک Constituency ہوتی ہے، چاہے وہ تحصیل کے لیول پر ہو، چاہے ضلع کے لیول پر لیکن بیک وقت ایک طریقے سے اور بغیر کسی قانون کے بنائے ہوئے ان کو ہٹا دینا بہت بڑی ناانصافی ہو گی۔ جناب سپیکر صاحب، اس کیلئے قانون تو ہونا چاہیئے۔

جناب سپیکر: جی جاوید عباسی صاحب۔

جناب محمد جاوید عباسی: Thank you very much۔ جناب سپیکر، اکرم درانی صاحب نے جو بات کی ہے میں اس سے متفق ہوں لیکن عبدالاکبر خان صاحب نے جو بات اٹھائی ہے، چونکہ ابھی تک کوئی فیصلہ نہیں ہوا اور نہ ہی ہمارے پاس کچھ چیز آئی ہے۔ ہمیں پتہ چلا ہے کہ، چونکہ آج ہی کے دن سب کا جو ڈیمانڈ تھا، میں سمجھتا ہوں کہ یہ ایک اچھی بات ہوئی ہے کیونکہ ہم ہمیشہ سے یہ ڈیمانڈ کرتے تھے کہ لوکل گورنمنٹ کا جو سسٹم ہے یہ چونکہ صوبائی سسٹم ہے لہذا اسے صوبوں کے حوالے کیا جائے اور میں اس کو بہت بڑی بات سمجھتا ہوں کہ یہ آج ہی صوبوں کے پاس آیا ہے اور آج کے بعد اس پر صوبوں کا کنٹرول ہو گا لیکن ابھی سب سے پہلے تو حکومت کی طرف سے کوئی جواب آ جائے۔ میں سمجھتا ہوں، شاید یہاں ہمارے ایک اخبار میں خبر آئی ہے کہ ایڈمنسٹریٹرز، جو ڈسٹرکٹ ناظمین تھے ان کی جگہ ڈی سی اوز اور تحصیل ناظمین کی جگہ ٹی ایم اوز کو لگایا جائیگا، یہ صرف ہم نے ان پر ظلم کیا۔ ہم چاہتے ہیں کہ اگر کوئی ایسی بات ہے تو یہ ہاؤس کے اندر آنی چاہیئے، یہ اجلاس میں 'ڈسکس' ہونی چاہیئے اور اگر یہ بغیر 'ڈسکشن' کے، پھر یہ بھی بتانا چاہیئے کہ یہ سرکاری افسران صاحبان کو لگائینگے، کچھ لوگوں کا آج بھی یہ خیال ہے کہ شاید پولیٹیکل لوگ جو ہیں، جو ورکرز ہیں، جو مختلف پارٹیز کے لوگ ہیں تو ان کو، یو یہ بات کلیئر ہو جائے، تو آج یہ اس اجلاس میں کلیئر کر دیں کہ جی اس میں سیاسی Appointees نہیں ہونگے، سیاسی لوگوں کو نہیں لگایا جائیگا، یہ پتہ چل جائے۔ اگر انہوں نے لگانا ہے تو پھر ہمیں یہ بتایا جائے اور اس کیلئے ضروری ہے کہ آج ان کی طرف سے ایک وضاحت آ جائے اور ہماری ان سے ریکویسٹ ہے اور ہمیں یقین ہے کہ انشاء اللہ، ابھی میاں افتخار صاحب چونکہ آ گئے تو مجھے یقین ہے کہ بڑے دل سے انہوں نے ہماری بات سن لی ہو گی، بہت اچھا ہے کہ اگر یہ کوئی بھی لانا چاہتے ہیں تو پہلے، چونکہ ہاؤس ابھی کچھ دیر Continue رہیگا تو پہلے ہاؤس کے اندر یہ بات لائی جائے تاکہ ہاؤس فوری طرح اس کو 'ڈسکس' کرے۔۔۔۔

جناب سپیکر: آپ نے اپنی پارٹی کا مؤقف بتا دیا۔

جناب محمد جاوید عباسی: تو پھر اس کے بعد جو بھی لوگ 'اپوائنٹ' کرنے چاہیں تو ہاؤس کی منظوری کے بعد ہونے چاہیئں جناب سپیکر۔

مفتی کفایت اللہ: جناب سپیکر، ایک اہم بات کرنا چاہتا ہوں۔۔۔۔

جناب سپیکر: مفتی صاحب! آپ کی پارٹی کی طرف سے بات ہو گئی ہے۔ آپ دعا پڑھیں گے۔ جی، حکومت کی طرف سے کون؟ جی، میاں افتخار حسین صاحب۔

میاں افتخار حسین (وزیر اطلاعات): ډیره مهربانی، شکریه جی۔ یو خو تعزیتی اجلاس دے، بهرحال 'ایشو' را اوچته شوه، رښتیا خبره ده چه زمونږه موجوده حکومت به هیڅ د قانون خلاف کار نه کوی۔ مونږه ټول د ضابطے تحت کار کوؤ۔ تر څو پورے چه مونږه په دے هاؤس کښے Amendment نه وی راوستی او د هغوی دا الیکشن نه وی نو دا اوسنی چه کوم خلق دی، دا به Continue کوی، دا د دے طریقه کار دے۔ د دے طریقے مطابق چه دلته کښے مونږه یوه فیصله اوکړو، د هغے فیصلے مطابق به بیا ایډمنسټریټران مقرر کیږی۔ هغے کښے به هم دلته د دوئ یوه رائے شامله وی، دا ټوله خبره به پکښے شامله وی، هیڅ یو کار به داسے نه کیږی۔ د هغوی خپل ټائم ختم دے خو چونکه مونږه جمهوری خلق یو، مونږه د جمهوری اقدارو قدر کوؤ ځکه مونږه وایو دا به Continue کوؤ۔ په دے بنیاد چه تر څو پورے مونږه په دیکښے Amendment نه وی راوستی او دے له مو قانونی لار نه وی کتلے نو تر هغے پورے به دا خلق Continue کوی۔

جناب سپیکر: شکریہ۔

حاجی قلندر خان لودھی: جناب سپیکر! پوائنٹ آف ارڈر۔ جناب سپیکر، میں بھی اس سلسلے میں بات کرنا چاہتا تھا۔۔۔۔

جناب سپیکر: قلندر خان لودھی صاحب! خالی شکریہ ادا کریں تاکہ دعا پڑھیں جی۔

حاجی قلندر خان لودھی: گورنمنٹ کی طرف سے انہوں نے جو یقین دہانی کرائی ہے، اس تو ہم مطمئن ہو گئے ہیں لیکن اس کیلئے کچھ اعلامیہ تو یہ جاری کرینگے، کیسے کرینگے؟ صحیح کون ہو گا؟ جو پرانے لوگ ہیں آیا وہ بیٹھیں گے یا ایڈمنسٹریٹرز بیٹھیں گے؟

جناب اکرم خان درانی (قائد حزب اختلاف): سپیکر صاحب۔

جناب سپیکر: جی، اکرم خان درانی صاحب! خالی وہ کریں تاکہ ہم دعا پڑھیں جی۔

قائد حزب اختلاف: محترم سپیکر صاحب، میاں صاحب ډیره بنکلے خبره اوکړه۔ حقیقت دا دے چه زمونږه ځه دغه وو، د هغے خو هغه کهلاؤ خبره اوکړه چه دا خلق به د هغے پورے جاری وی چه تر څو پورے ستاسو په صلاح باندے دلته کبنے څه Amendment نه وی راغلے، نو زه د میاں صاحب شکریه ادا کوم، د گورنمنټ، چه کومه درنه غوندے خبره دوئ د دے نظام په حقله اوکړله او باقی وضاحت د هغے دوئ کړے دے چه تر څو پورے Amendment نه وی راغلے دا به بدستور جاری وی۔ مونږه په دے باندے د دوئ شکریه ادا کوؤ۔

جناب سپیکر: جناب مفتی کفایت اللہ صاحب! ہمارے اس ہاؤس کے دو معزز اراکین، جن میں جناب شمشیر علی خان صاحب اور۔۔۔۔۔

ملک قاسم خان خٹک: جی، دا نور شهداء چه دی، دا 'بم بلاسټ' والا، دا هم په دیکبنے شامل کړئ۔

جناب سپیکر: د دوئ د پاره خصوصی ده، بیا به وروستو کوی جی۔ جو شہید کئے گئے ہیں، انتہائی بے دردی سے، ہمارے اس ہاؤس کے Sitting Members تھے، جو پیر خالد رضا کوڑی صاحب، وہ بھی اپنی طبعی موت یا حادثاتی موت جو بھی ہے، فوت ہو چکے ہیں، ہمارے بھائی تھے، ان کی دعا کیلئے میں جناب مفتی کفایت اللہ صاحب۔۔۔۔۔

جناب محمد جاوید عباسی: جناب سپیکر، بابر نسیم خان جو پہلے منسٹر تھے، وہ بھی وفات ہو چکے ہیں۔۔۔۔۔

مفتی کفایت اللہ: اس کے متعلق بات ہوئی ہے، اس کے بعد۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: بابر نسیم صاحب بھی ہمارے ہاؤس کے ممبر تھے، وہ بھی دعا میں شامل کریں۔ دعا پڑھیں جی، بسم اللہ۔

جناب لیاقت علی شباب (وزیر آبکاری و محاصل): جناب سہیل قلندر بھی وفات پا چکے ہیں۔

جناب سپیکر: ان تمام کیلئے دوبارہ کرینگے۔

جناب بشیر احمد بلور سینیئر وزیر (بلدیات): جناب سپیکر، فورسز کے جو جوان شہید ہوئے، ان کو بھی خراج تحسین پیش کریں۔

حاجی قلندر خان لودھی: چلو اس کے بعد کرینگے۔

جناب سپیکر: دعا کے بعد کریں، دعا کے بعد جتنے۔۔۔۔۔

## دعائے مغفرت

مفتی کفایت اللہ: ایک دفعہ 'الحمد شریف' پڑھ لی جائے اور تین دفعہ 'قل ھو شریف' پڑھ کر ان کو ایصال ثواب کیا جائے۔ یااللہ! ان دونوں ساتھیوں کو اور تمام ساتھیوں کے تمام حسنات قبول فرما، انہوں نے جو عوامی خدمت کی ہے، ان کے ذریعے ان کی نجات نصیب فرما۔ یااللہ! ان تمام کو اعلیٰ مرتبے پہ فائض فرما۔ یااللہ! جن کیلئے ہم درخواست کر رہے ہیں، ہماری درخواست قبول فرما۔ جناب سپیکر، میں گزارش کرتا ہوں۔

جناب مختیار علی ایڈوکیٹ: سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: مختیار خان۔

جناب مختیار علی ایڈوکیٹ: جناب سپیکر صاحب، سهیل قلندر زمونږه صحافی ورور وو، د هغه په حق کښې هم دعا پکار ده۔

وزیر آبکاری و محاصل: جناب سپیکر، ما هم دا خبره کوله۔

جناب سپیکر: سہیل قلندر صاحب۔ لیاقت شباب۔

وزیر آبکاری و محاصل: جناب سپیکر، سهیل قلندر صاحب زمونږه صحافی ورور وو او د هغه ډیر خدمات دی۔

مفتی کفایت اللہ: انہوں نے کہا کہ ہمارے حلقے میں اس اسمبلی کے سابق رکن تھے بابر نسیم خان، وہ بھی فوت ہوئے ہیں، فیض محمد خان، سابق رکن تھے، وہ بھی فوت ہوئے ہیں اور یہ صحافی کا نام مختیار خان نے لیا ہے، سہیل قلندر، وہ بھی فوت ہوئے ہیں تو ہم ان تمام کیلئے ایک اجتماعی دعا پھر کر لیتے ہیں۔

جناب سپیکر: میں اس میں مزید اضافہ کرنا چاہتا ہوں کہ ہمارے ہاں پشاور میں اور ارد گرد جتنے بھی بم دھماکے ہوئے ہیں اور ان میں ہمارے کافی بھائی بہن شہید ہوئے ہیں تو ان سب کو دعا میں یاد رکھیں، یہ دعا سب کیلئے کر لیں۔

محترمہ نگہت یاسمین اورکزئی: جناب سپیکر، کراچی میں بھی۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: کراچی میں بھی، کراچی میں۔۔۔۔۔

جناب مختیار علی ایڈوکیٹ: زمونږه د ورور فضل شکور والد صاحب هم وفات شوے دے۔

جناب سپیکر: فضل شکور خان کے والد صاحب فضل غفور خان کو بھی دعا میں یاد رکھیں۔

مفتی کفایت اللہ: ٹھیک ہے جی۔ اپنے ان دو Colleagues کو اور جو دو 'ایکس' ایم پی ایز ہیں ان کو، بم دھماکے کے تمام شہداء کو، فضل شکور خان کے والد صاحب کو اور کراچی میں یا جہاں کہیں بھی شہید ہوئے ہیں، ان تمام حضرات کو آپ یاد کریں۔ اللہ تعالیٰ ان کی مغفرت نصیب فرمائے، اللہ تعالیٰ ان کے درجات کو بلند فرمائے اور انہوں نے جو خدمات سرانجام دیئے ہیں، اللہ تعالیٰ وہ قبول فرمائے۔ اللہ تعالیٰ ان کی تمام نیکیاں قبول فرمائے اور یہ دعا کیلئے ہم جو درخواست کرتے ہیں تو یہ اللہ کے ہاں ایک جرگہ ہے، اللہ تعالیٰ ہمارا یہ جرگہ ان کے حق میں قبول فرمائے۔ اللہ تعالیٰ اس ملک میں امن نصیب فرمائے اور جو جو حضرات جن کو ہم نے یاد کیا ہے یا وہ شہداء ہیں جو ہم سے یاد نہیں ہو سکے، اللہ تعالیٰ تمام کو اجر نصیب فرمائے، ان کو اپنے جوار رحمت میں جگہ دے اور جنت کے اندر انہیں اعلیٰ مقام پر فائز فرمائے۔

جناب بشیر احمد بلور سینیئر وزیر (بلدیات): سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: جناب بشیر بلور صاحب۔

سینیئر وزیر (بلدیات): جناب سپیکر، ډیره مهربانی۔ سپیکر صاحب.....

جناب سپیکر: نن خالی زمونږ دے ممبرانو ته تاسو خراج عقیدت یا څه د دوئ دغه اوکړئ، نور فالتو بحث به نن نه کوئ۔ جی بشیر بلور صاحب۔

## سابق رکن اسمبلی ڈاکٹر شمشیر علی (شہید) کو خراج عقیدت

سینیئر وزیر (بلدیات): زمونږه ډاکټر شمشیر صاحب د پیشے په لحاظ باندے ایډوکیټ وو۔ زمونږه ډیر کلک ملګرے وو، د پلار نیکه د وخت نه ئے زمونږ د پارټئ سره تعلق وو او د هغوی یو وور پکښے هم مخکښے اغواء شوے وو، بیا د هغه یو وراره پکښے شهید شوے وو او یو ورور ئے اوس هم په هسپتال کښے پروت دے او هغوی د دے قام د پاره، د دے ملک د پاره د دهشت ګردئ خلاف خپل ځان شهید کړو۔ جناب سپیکر، هغه زمونږه ښه پارلیمنټرین وو۔ تاسو ته پته وه چه هغوی به په هر کار کښے خبره کوله او د هغوی چه څومره سیاسی ژوند دے نو هغوی همیشه ټول عمر د بنیادی حقوقو د پاره، د عوامو د حقوقو د پاره او

د روڼ آف لا ء د پاره همیشه جیلونه تیر کړی وو۔ د خپل قام، د ملک د پاره او د خپلو عوامو د پاره ئے جدوجهد همیشه کولو۔ دے ځل خدائے مهربانی اوکړه چه هغه ممبر هم شو او ممبر سره هغوی، As a Member هغوی د حکومت په کارونو کښے دلچسپی اغستله، د عوامو د پاره ئے خبرے کولے او زمونږ سره ئے د خپلے ہلاقے د خلقو د پاره جدوجهد کولو۔ چیف منسټر سره ئے هر ځائے کښے د خپلے حلقے د پاره، د سوات د پاره چه هغوی کومے قربانئ ټول عمر ورکولے نو هغوی نن په دے وجه باندے شهید شوڵ چه هغوی د پاکستان او د دے ملک د سالمیت د پاره او د انسانیت د پاره هغوی خپل ځان شهید کړو۔د هغه هیڅ قصور هم نه وو، هغه څه داسے د چا سره زیاتے نه وو کړے خو صرف او صرف د خپل حب الوطنئ د پاره او دا کومه دهشت گردی چه نن سبا روانه ده، دا صرف د ملک د پاره، د یو صوبے د پاره نه، دا د پوره انسانیت خلاف دهشت گردی ده او دا چه مونږه څومره هم Condemn کړو نو دا کمه ده۔ د دے نه مخکښے هم زمونږه یو وررور عالمزیب خان هم شهید شوے وو او زمونږه د اے این پی تقریباً سل کسان لیډران او ورکران شهیدان شوے دی او د هغے باوجود زه فلور آف دی هاؤس دا خبره کوم چه مونږه به خپل، که د هغوی دا خیال وی چه دا حکومت به هغوی ته 'سرینډر' شی یا به حکومت خپل 'رټ' نه قائموی، زه په دے هاؤس کښے دا وایم چه انشاء الله مونږه به خپل 'رټ' بحالوؤ او د اخری دهشت گرد پورے به انشاء الله په دوئ پسے روان یو او دوئ دا دهشت گردی به ختموؤ (تالیاں) او که د چا دا خیال وی چه دا، څوک وائی چه دا امریکه کوی، څوک وائی چه دا هندوستان کوی، زه تاسو ته فلور آف دی هاؤس دا خبره کوم چه که دا امریکه کوی او که هر څوک ئے کوی، زه وایم چه زمونږه بچی مړه کوی، هر څوک چه زمونږه په دے ملک کښے بدامنی راولی، هر څوک چه زما بچی وژنی، هر څوک چه کوی نو مونږه هغه Condemn کوؤ او دا وایو چه دا کوم کار، مونږه افسوس په دے باندے کوؤ چه تاسو به پرون لیدلی وی، اخبار کښے راغی چه قاری مظهر دا وائی چه بونیر کښے چه کوم وخت الیکشن کښے 'بلاسټ' شوے وو نو هغه ما کړے وو، سل کسان پکښے شهیدان شوے وو او بیا وائی چه دوه ټینکونه په سوات کښے ما 'بلاسټ' کړی وو۔ بل عثمان غنی د باجوړ نه

نیولے کیږی، هغه وائی چه ما ته ټریننګ کمیپ کښے دا را کړلے شوے وو، نوم هم اخلی چه زه فلانکی سره ملاؤ شومه او هغه ما ته وئیل چه که تا دا 'بلاسټ' اونکړو نو مونږ به ستا کور تالا کړو۔ هغه وائی چه زه لاړم جماعت، جماعت کښے د 'بلاسټ' د پاره هغوی څه دغه کړے وو، وائی چه زه جماعت ته لاړم او هلته کښے ما اولیدل چه قرآن کریم پروت وو، ما شومانو مونځ کولو نو زما زړه په دے باندے خفه شو، زه واپس راغلم او حکومت ته مے ځان 'سرینډر' کړو۔ مونږه سره داسے خلق نیولے شوے دی او هغه وائی چه دولس کسان ما په خپل لاس حلال کړی دی۔ نن یو چرګ هم څوک نه شی حلالولے۔ سپیکر صاحب! دا زما دولس ځوانان، زما ملګری، زما مسلمانان او پښتانه ورونړه چه دی هغه حلالوی او بیا دوئ وائی چه دا هغوی نه کوی، دا خو بل څوک کوی او بل څوک کوی۔ دا چه هر څوک کوی، زه فلور آف دی هاؤس وایم چه مونږه به د هغوی خلاف جدوجهد کوؤ او مونږه فیصله کړے ده چه یا به هغوی پاتے کیږی یا به مونږه پاتے کیږو۔ انشاءالله مونږ سره خدائے شته، مونږ به انشاءالله پاتے کیږو او د دوئ نه به دا خپل بدل خامخا اخلو او دا خپلق به خپل انجام ته رسوؤ۔زه ډاکټر صاحب ته خراج عقیدت پیش کوم چه ډاکټر صاحب د کوم مقصد د پاره خپل ځان ورکړے دے ، انشاءالله دا حکومت به، زمونږه ټوله صوبه په هغے باندے فخر کوی او دا وایو چه انشاءالله د هغے چه کوم دا بنیاد دے دا به مونږ مخکښے بوځو او دے ملک کښے به امن راولو د خدائے په فضل سره۔

<u>جناب سپیکر:</u> جی واجد علی خان۔ واجد علی خان صاحب! صرف د عقیدت پیرزونے ورته پیش کړئ، زمونږ ډیر خواږه ملګری وو۔

<u>*جناب واجد علی خان(وزیر ماحولیات):*</u> جناب سپیکر صاحب! دا ماحول چه کوم کښے مونږ ناست یو، دا صوبائی اسمبلی، په هغے کښے ډاکټر شمشیر شهید زمونږ نه جدا شوے دے۔ ډاکټر شمشیر زما ذاتی دوست وو جی او تقریباً د پینځه اتیایم کال، د (1985) نه راواخله تر اوسه پورے مونږ یو ځائے سیاسی کار کړے دے او په یو پارټئ کښے مو دننه کار کړے دے۔ هغه یو ډیر زیات مدبر، یو هنس مکه او ډیر زیات برداشت کوؤنکے کس وو۔ که هر نمونه ماحول وو، که هر نمونه حالات وو خو هغه د هغے مقابله کړے ده او تر دے پورے چه هغه په کومه ورځ

شهید کیدو، تر دغه وخته پورے هغه داسے څه نه دی Feel کړی چه هغه Extraordinary څه انتظام ئے کړے وے۔ هغوی دا گنړله چه زما په زړه کښے، زما په ذهن کښے د چا سره څه بدی نشته او دغه وجه وه چه هغه شهید کړے شو۔ محترم سپیکر صاحب! دا مونږ چه ناست یو دا ټول د خپلو حلقو نمائنده گان دی، په دوئ خلقو اعتماد کړے دے او دا خطره صرف ډاکټر شمشیر ته نه ده، د دے هاؤس هر یو ممبر ته خطره شته۔ که څوک په هغو پسے څه وائی او که نه وائی خو د هغو مقصد دهشت خورول دی، دهشتگردی کول دی او دا خلق یرغمال ساتل دی او په دوئ باندے خپل هغه نړاولی کارونه کول دی یا هغه تپل دی چه دا ټول پولیټیکل خلق Paralyze شی او صرف او صرف د دهشتگردئ هغه لاس مضبوط شی، نو یقیناً که نن د اے این پی عالمزیب خان یا ډاکټر شمشیر یا په دے توگه باندے زمونږه ورکران یا د نورو پارټو خلق شهیدان کړے شوے دی نو دلته کښے تش او تش یو خبره ده چه دهشت گردئ چه ده، هغے خپلے پنجے ښخے کړے دی۔ د سیاسی تعلقاتو نه بالا تر پکار دا ده چه د دے صوبے ټول پولیټیکل فورسز دا یوه خبره بالکل په گوته کړی او اووائی چه په دے خاوره هر څوک دهشتگردی کوی، هغه د دے پولیټیکل سسټم، هغه د جمهوریت، هغه د مذهب، د دے خاورے، د دے د ترقئ او د دے د آبادئ دشمنان دی او چه تر څو پورے دا خبره پولیټیکل فورسز په یو آواز نه وی کړی نو تر هغے پورے د هغے خلقو ارادے نه ماتیږی۔ د دے د پاره پکار دا ده چه مونږ په دے خبره باندے سوچ اوکړو چه پریس کلب محفوظ نه شو، جماعت محفوظ نه شو، حجره محفوظ نه شوه، د جنازے مونځ محفوظ نه شو او زمونږ د سوسائټئ مقدس 'انسټی ټیوشنز' یو ځائے هم محفوظ پاتے نه شو۔ زمونږه بازارونه محفوظ پاتے نه شو نو پکار دا ده چه یوه خبره به کول غواړی چه دا پښتانه چه هغه د دنیا، د عالمی سامراجی قوتونو، د هغوئ دلته کښے د مخصوصو مفاداتو تحفظ کوؤنکی قوتونو، که هغه په هره جامه کښے وی، هغه که هر څوک دی پکار دا ده چه مونږ د هغے غندنه اوکړو او دا خلق د هغے مذمت اوکړی۔ د هغے نه پس یوه خبره چه هغه ډیره لازمی ده او هغه دا ده چه پولیټیکل فورسز به دا فیصله کوی چه مونږ به دے خلقو ته دا ښنایو چه زمونږه ارادے د دوئ په ضد دی، زمونږه فیصلے د

دوئ په ضد دی، زمونږه هر اقدام د دوئ په ضد دے۔ هغه به داسے کیږی چه دوئ ټول د دے متعلق د دے اسمبلئ نه یو قرارداد منظور کړی چه دوئ په مونږ کښے هر څوک ټارګټ کوی او هغه وژلے کیږی، شهید کیږی، پکار دا ده چه مونږه په هغه سیټ باندے هغه سړے مشترکه کامیاب کړو چه هغوئ ته دا Message لاړ شی (تالیاں) چه دا خلق سیاست نه کوی، د دوئ مقصد او منشاء دا ده چه په دے ملک کښے به جمهوریت وی، جمهوری ادارے به وی، سیاست به وی، رواداری به وی او د دے نه علاوه به خپل خپل سیاست کوؤ۔ زه نن د دے هاؤس په ذریعه باندے، ستاسو په ذریعه باندے ټول پولیټیکل فورسز ته دا درخواست کوم، اپیل کوم چه په دے سیټ باندے د ډاکټر شمشیر علی کشر رور اے این پی Candidate کړځولے دے، ټول خلق د خپل Candidate withdraw کړی او دا Message د ورکړی چه د دهشت ګردئ خلاف دا قوم یو دے او دے مونږه د هغے نه پس کامیاب کړو۔ (تالیاں) زه په اخر کښے په دے وخت باندے سهیل قلندر ته، ډاکټر شمشیر ته، ټولو شهیدانو ته او سیاسی قوتونو ته چه کوم خلق د دے دهشت ګردئ ښکار دے، هغوئی ټولو ته خراج تحسین پیش کوم او خراج عقیدت پیش کوم۔ ډیره مهربانی۔

<u>جناب سپیکر:</u> عبدالاکبر خان۔

<u>جناب عبدالاکبر خان:</u> *تھینک یو جناب سپیکر۔ مائیک آن نہیں ہو رہا ہے سر۔ یقیناً آج کا دن جو کہ صرف تعزیت کیلئے ہے اور چونکہ شمشیر علی خان اور ہمارے دوسرے ساتھی جو گزشتہ اجلاس کے بعد ہم سے بچھڑ گئے، زکوڑی صاحب کے ساتھ تو میرا اتنا تعلق نہیں رہا اور شمشیر خان بھی پہلی دفعہ میرے ساتھ اس اسمبلی میں ملے لیکن چونکہ نزدیک سیٹ ہونے کی وجہ سے، آپ یقین جانیئے جناب سپیکر، کہ تھوڑے سے عرصے میں ان کی شرافت نے، ان کی انسانیت نے اور ان کے ملنے کا جو طریقہ تھا اس نے مجھے اپنا گرویدہ بنا دیا اور شاید میرے خیال میں جن لوگ کے ساتھ ان کا تعلق پرانا رہا ہو تو وہ مجھ سے بھی زیادہ انہوں نے گرویدہ بنا چکے ہونگے لیکن جناب سپیکر، یہ ایک عجیب اتفاق ہے کہ وہ ہم سے عید کے دن بچھڑ گئے اور اس دن کراچی میں جو واقعہ ہوا، اس میں بھی بہت سے مسلمان شہید ہوئے لیکن جناب سپیکر، اگر آپ ایک نظر ڈال لیں کہ ہمارے صوبے میں اگر کوئی 'بم بلاسٹ' میں شہید ہوتا ہے تو اس کو تین لاکھ روپے دیئے*

جاتے ہیں جبکہ وہاں کراچی میں جو لوگ شہید ہوئے تو ان کو پانچ لاکھ روپے دیئے جاتے ہیں۔ مرکزی حکومت اگر دیتی ہے تو میری درخواست ہوگی کہ جو بھی شہید ہوتا ہے خواہ وہ کراچی میں ہیں یا صوبہ سرحد میں ہیں تو دونوں کو معاوضہ پانچ لاکھ دیا جائے، اس طرح نہیں کیونکہ اس سے صوبوں کے درمیان کچھ بدمزگی پیدا ہوتی ہے۔ دوسرا جناب سپیکر، مینا بازار میں جو 'بم بلاسٹ' ہوا تو اس میں تقریباً سو سے زیادہ لوگ شہید ہوئے اور یہاں پر کروڑوں روپے کا نقصان ہوا لیکن جناب سپیکر، مرکزی حکومت نے ایک روپے بھی ان کیلئے نہیں دیا اور کراچی میں ایک ارب روپے کی امداد کا اعلان کر دیا جبکہ ان کا مطالبہ تین ارب کا ہے تو ہمیں بھی مطالبہ کرنا چاہیئے کہ یہ بھی غریب دکاندار تھے، مرکزی حکومت اگر وہاں پر ان کو ایک ارب روپے دیتی ہے اور وہ کہتے ہیں کہ یہ ایک ارب روپے کم ہیں، اس کو تین ارب کیا جائے تو کیا مینا بازار میں غریب لوگوں کی جو دکانیں جل گئیں ان کو امداد نہیں ملنی چاہیے؟ تیسری جناب سپیکر، اگر آپ دیکھیں تو وہاں پر رینجرز کے ایک سپاہی نے اپنی جان کی پرواہ نہ کرتے ہوئے جب اس بمبار کو پکڑا اور وہ شہید ہوا تو ان کیلئے تمغہ شجاعت کی سفارش کی گئی لیکن جناب سپیکر، اگر صوبہ سرحد کی پولیس پریس کلب میں، ادھر سیشن کورٹ میں، پی سی کے سامنے یا اور جگہوں پر اپنی جان پر کھیل کر دوسرے لوگوں کو بچاتے ہیں اور دوسرے لوگوں کی زندگیاں بچاتے ہیں تو کوئی پولیس میڈل ان کو نہیں دیا جاتا۔ کیا ہماری اسمبلی کا یہ کام نہیں کہ ہم بھی مرکزی حکومت اور صوبائی حکومت سے سفارش کریں کہ پولیس کے جو لوگ ایسے حملوں میں شہید ہوئے ہیں، ان کیلئے بھی پولیس میڈل کا اجراء کیا جائے اور تیسری جناب سپیکر، تمغہ شجاعت اگر دیں یا پولیس میڈل دیں جو بھی میڈل ہو، مجھے تو پتہ نہیں ہے کہ کونسا بڑا میڈل ہے لیکن بڑے سے بڑا میڈل دیا جائے اور اس کے علاوہ جناب سپیکر، اگر آپ دیکھیں تو یہاں پر ہمارے لوگ جلتے ہیں، دکانیں جلتی ہیں تو ایک فائیر بریگیڈ نہیں دیا جاتا اور کراچی میں پرائم منسٹر صاحب پانچ فائیر بریگیڈ کا اعلان کرتے ہیں تو ہمیں بھی یہ مطالبہ کرنا چاہیئے کہ ہمارے صوبے کے معاشی حالات کو دیکھتے ہوئے مرکزی حکومت کم از کم پندرہ بیس فائیر بریگیڈ کا تو اس صوبے کیلئے مفت اعلان کرے۔ (تالیاں)

جناب سپیکر، میں سمجھتا ہوں کہ دیکھیں، اس سے صوبوں میں ہم آہنگی ہوگی، وفاق مضبوط ہوگا اور وفاقی حکومت پر لوگوں کا اعتماد اور بڑھ جائے گا۔ اگر وہ ایک صوبے کیلئے اس طرح کر سکتے ہیں تو ہمارے چھوٹے سے صوبے کیلئے ایسا کیوں نہیں کر سکتے؟ تھینک یو جناب سپیکر۔

جناب سپیکر: عبدالاکبر خان! شکریہ۔ تعزیتی اجلاس دے ، نورے خبرے نه کوؤ، نن ډیر ښه په رشتیاؤو راغلے ئے۔ رحیم داد خان صاحب۔

جناب رحیم داد خان سینئر وزیر(منصوبہ بندی): بسم اللہ الرحمن الرحیم۔ سپیکر صاحب، ستاسو ډیره مهربانی چه په دے موقع مو ما له هم وخت راکړو چه زه شمشیر علی خان شهید ته خراج تحسین پیش کړم او د هغه د شهادت مذمت اوکړم او ورسره پیر آف زکوړی، هغه معزز ممبر وو، هغوی ډیر شرافت سره وخت تیر کړے او ډیره ښه کارکردگی ئے وه، هغه ته هم زه خراج تحسین پیش کوم او دا دعا کوؤ چه اللہ تعالیٰ هغه له په هغے جهان کښے ښه مقام ورکړی او شمشیر علی خان صاحب خو داسے مقابله کړے ده او داسے وخت کښے ، داسے حالاتو کښے خپلو خلقو سره ناست وو چه ښکاره Indicationsوو چه د دوئ سر ته خطره ده او په دے دغه باندے چه مونږه هغه ته خراج تحسین پیش کوؤ نو ورسره هغه ورونړه،'فورسز' چه کوم د عوامو محافظ دی او د هغوی د دفاع د پاره ځان شهیدان کوی، ځان قربانی کوی او بیا پریس کلب باندے چه کومه حمله شوے ده، د هغے هم مذمت کوؤ او دا ټول حالات داسے دی چه د دے مقابله به دا پراونشل حکومت او مرکزی حکومت او د عوامو مشکور یو چه په دے وخت باندے د حکومت په شا باندے ولاړ دی او څومره دغه دی، کوم خلق چه دی د هغوی خلاف چه څوک کار کوی، عملی اقدامات کوی نو هغوی ئے مرسته کوی۔ په دے موقع باندے زه ټول سیاسی گوندونو ته، دے ټولے سول سوسائټی ته او نورو خلقو ته اپیل کوم چه ټول یو شو، یو موټے شو او د خپل وطن د پاره او د خپل آئنده نسل د پاره مونږه څه داسے لار جوړه کړو او هغوی دغه کړو، دا Handicaps کړو، داسے دغه ورته جوړ کړو چه دا کوم تشدد دے چه دیکښے هر وخت، Alreadyد هغوی نیټ ورک خو ختم شوے دے ، څه لږ ډیر چه پاتے دے نو هغه چه کوم دے صرف او صرف زمونږ په یکجهتئ باندے کنټرول کیدے شی۔ دا وخت دے ، دا حالات دی چه په دے دغه باندے مونږ یو شو۔ اوس دے وخت کښے امن پکار دے د دے صوبے او پراونشل گورنمنټ د پاره۔ سنټرل گورنمنټ د دے صوبےاو د نورو صوبو د پاره ډیر داسے Facilities،'این ایف سی ایوارډ' د صوبو د مرضئ مطابق سنټرل گورنمنټ خپل اختیار چه کوم وو،

هغه ئے صوبو ته منتقل کړو، بیا نورو صوبو یو بل سره چه کوم کوآپریشن اوکړو نو چه کوم Achievements مونږه حاصل کړو، د دے کوم ذرائع مونږ ته ملاؤ شوے چه هغه په ښه طریقه باندے Utilize کړو او د خپلو بچو د پاره، د خپلو بے روزګارو ورونړو د پاره د روزګار بندوبست اوکړو، د هغوی د ښه تعلیم او د ښه صحت بندوبست اوکړو او خپل داسے 'پلاننګ' باندے عمل شروع کړو چه یره آئنده د پاره چه کوم دے، دا قوم Backward پاتے شوے وو چه دا Backwardness زمونږ ختم شی او ترقی یافته صوبو کښے او ترقی یافته ملکونو کښے مونږه شمار شو۔ ډیره مهربانی، شکریه سر۔

جناب سپیکر: معزز خواتین اراکین کی طرف سے نور سحر بی بی۔

محترمہ نور سحر: تھینک یو سپیکر صاحب۔ میں آج اپنے دونوں بھائیوں، جو یہاں پر موجود نہیں ہیں، زکوڑی صاحب اور شمشیر علی خان صاحب کو خراج تحسین پیش کرتی ہوں اور آج مجھے بڑا افسوس ہو رہا ہے کہ وہ ہمارے درمیان نہیں ہیں۔ ان کیلئے ایک شعر کہ:

وہ پھول اپنی لطافت کی داد پا نہ سکا
کھلا ضرور مگر کھل کر مسکرا نہ سکا

جناب سپیکر، یہ شعر میں ان کیلئے اس لئے کہہ رہی ہوں کہ پانچ دفعہ میرے اس بھائی نے الیکشن Contest کیا اور ایک دفعہ وہ اسمبلی میں آ گئے۔ بد قسمتی سے اس اسمبلی میں آ گئے لیکن مجھے افسوس اس بات پر ہے کہ شہادت تو ان کو مل گئی، اللہ ان کو مبارک کرے، وہ جہاں تو اس کا ہو گیا لیکن مجھے افسوس اس بات کا ہو رہا ہے کہ وہ اپنا Tenure پورا کرنے سے پہلے ہی چلے گئے۔ زکوڑی صاحب کا بھی افسوس ہوا لیکن وہ تو بیمار تھے، کچھ عرصہ بیماری میں گزارا، اللہ ان کو بھی جنت الفردوس نصیب کرے لیکن یہ جس طرح گئے تو اس کا بہت افسوس ہو رہا ہے۔ اس سے کچھ دن پہلے وہ مجھ سے سی ایم ہاؤس میں ملے، میں نے کہا بھائی! کیونکہ ان کو میں خاندان سے جانتی ہوں، میرے Husband کے بڑے قریبی دوست تھے، ان کے ابو سے ہمارا بڑا قریبی تعلق تھا، ان کے خاندان سے ہمارا کافی تعلق رہا ہے، ایک ہی ساتھ ہمارے گھر ہیں۔ ان سے میں نے پوچھا کہ بھائی! آپ عید کیلئے سوات جا رہے ہیں کہ نہیں جا رہے ہیں؟ تو کہہ رہے تھے کہ کیوں نہیں جائیں گے، اپنے گھر نہیں جائیں گے؟ تو میں نے کہا کہ بھائی! حالات خراب ہیں تو کہتے ہیں کہ موت کا ایک دن مقرر ہے، جس دن آئے گی وہ تو آ ہی جائے گی۔ میں ان کو دلیری کی داد

دیتی ہوں کہ اس حالات میں بھی انہوں نے کبھی، ہمارے سارے ایم پی ایز نے کبھی یہ نہیں کیا کہ اپنے گھروں میں نہ گئے ہو، گھروں میں تو ہم جاتے ہیں اور یہ ہم ان کو دکھاتے ہیں کہ ہم ان کی اس حرکتوں سے نہیں ڈرتے ہیں، یہ جو ہمیں ڈرانے کیلئے کروارہے ہیں لیکن افسوس اس بات کا ہے کہ وہ بیچارے عید پر گئے اور عید کے تیسرے دن ان کو اس بے دردی سے اڑا دیا گیا۔ اس دن میں اتنی روئی، اتنی روئی، اس لئے روئی ہوں کہ میں نے یہی سوچا کہ جس گھر میں اس طرح ہوتا ہے تو ان پر آج کیا گزر رہی ہوگی کیونکہ میرے ساتھ خود اس طرح ہوا ہے، میرے خود دو بیٹے گئے ہیں۔ تو مجھے افسوس ہو رہا تھا کہ جس گھر میں اس طرح جنازے جاتے ہیں، جس گھر میں اس طرح ایمرجنسی میں Death ہو جاتی ہے تو ان خاندانوں پر کیا گزرتی ہے؟ مجھے اس خاندان کے دکھ کا اظہار تھا جی، ان بیٹیوں کا اظہار تھا کہ جو اس کے ماتم پر رو رہی تھیں۔ مجھے اس ماں کا جو اس کے سرہانے بیٹھی ہوئی تھی اور اس کی دو بیٹیاں پیچھے رہ گئی ہیں، بیٹا ان کا نہیں تھا، تو وہ دو بیٹیاں اور اس کی ماں کا مجھے نظارہ نظر آرہا تھا کہ وہ آج اس کے پلنگ کے پاس بیٹھ کر کس طرح وہ ماتم کر رہی تھی؟ مجھے اس بات کا دکھ تھا کہ اس دہشت گردی میں ہماری بی بی بے نظیر بھٹو صاحبہ اسی طرح گئی ہیں، ہمارے بڑے Talented لوگ اس طرح لے گئے ہیں لیکن یہ ہمیں اس طرح نہیں ڈرا سکتے۔ ان کو بھی ان لوگوں نے روکا ہوا تھا کہ آپ پاکستان مت جائیں لیکن اس نے کہا کہ نہیں میں اپنے وطن ضرور جاؤں گی، چاہے مجھے شہید کر دیا جائے لیکن میں جاؤں گی۔ وہی ہوا اور اس کو شہید کر دیا گیا لیکن آج اس پر ہم فخر کرتے ہیں کہ وہ پاکستان آکر اپنی دھرتی پر شہید ہوئی ہیں اور اپنے آبائی قبرستان میں ان کو دفنایا گیا ہے، یہ نہیں کہ امریکہ سے اس کو لایا گیا ہے یا کسی اور ملک سے یا دوبئی سے اس کو لایا گیا ہے۔ اس پر آج ہم فخر کر رہے ہیں کہ شہادت ملی ہے تو وہ بھی اپنے گھر میں ملی ہے، اپنے ملک میں ملی ہے، اپنی دھرتی میں ملی ہے اور جس کی ان کو خواہش تھی کہ مجھے اپنے باپ کے ساتھ ہی دفنایا جائے تو اس کو ادھر دفنایا گیا ہے۔ تو یہ تو ان کو ہم دکھا رہے ہیں کہ آپ کا اثر ہم پر کچھ نہیں ہوگا۔ وہ بھی آئی ہیں، شہید ہو گئی ہیں، اس کو وہ جہاں تو مل گیا، یہ نہیں ملا تو وہ جہاں تو مل گیا ہے۔ شمشیر بھائی بھی چلے گئے ہیں، اس کو وہ شہادت ملی ہے جو لوگ خدا تعالیٰ سے مانگتے ہیں کہ اللہ یہی شہادت نصیب کرے، کیونکہ وہ بیچارہ تو بے گناہ چلا گیا ہے۔ تو میں کہتی ہوں کہ میں ان کو خراج تحسین پیش کرتی ہوں۔ وہ ایک بڑا اچھا دوست اور ایک اچھا Colleague اور ہمارا ایک اچھا بڑا بھائی تھا۔ ہمارا ایک علاقے سے تعلق نہیں تھا، ان کے گھرانے سے تعلق تھا۔ تو میں ان کی دلیری کو داد دیتی ہوں اور اس کے خاندان کو صبر کی تلقین کرتی ہوں کہ اللہ

ان کو صبر عنائت فرمائے، جس طرح ہم پر گزری ہے تو اس طرح آج ان پر بھی گزر رہی ہے لیکن اللہ ان لوگوں کو اس انجام تک پہنچائے۔ تھینک یو۔

جناب سپیکر: شگفتہ ملک بی بی، شگفتہ ملک۔

محترمہ شگفتہ: ډیر مننه. سپیکر صاحب، ډاکټر شمشیر چه د دے معزز ایوان ممبر وو، د عوامی نیشنل پارټئ سره ئے تعلق ساتلو. ډاکټر شمشیر هغه انسان وو، هغه شخصیت وو چه په هغوی باندے ځومره خبرے زمونږه دا ممبران وروڼړه خوئیندے اوکړی نو کم دی ځکه چه زما په خیال ډاکټر شمشیر او د هغه شخصیت، هغه یو داسے انسان وو چه په دے اسمبلئ کښے چه ځومره خلق ناست دی نو هغوی به ما سره په دے خبره متفق وی چه هغه یو ډیر Politeیو ډیر خنده پیشانئ سره او هر چا سره ملاویدو والا انسان وو او هر هغه خبره که هغه د سختئ خبره به هم وه، هغه چرته چا سره په سختئ خبره نه ده کړے او ډیر په ښه اخلاص باندے خلقو سره ملاویدو. د هغے وجه دا وه چه کله هغه شهید کړے شو نو د هغه د مرګ خبر په خلقو باندے ډیر سخت تیر شو او خلقو ډیر د دکھ او افسوس اظهار د هغه په مرګ باندے اوکړو. ډاکټر شمشیر غوندے ډیر زمونږه وروڼړه، ډیرے خوئیندے او ډیر ماشومان زمونږ په دے پختونخوا کښے شهیدان کړے شو. زمونږه عالمزیب ورور چه د دے اسمبلئ ممبر وو، هغه هم په دغسے طریقه دے خلقو په دے وجه باندے شهید کړو چه هغه یو عوامی نمائنده وو، هغه د خلقو د پاره آواز پورته کولو، هغه عوامی مسئلے رااوچتولے او هغه د هغه خلقو نمائنده وو چا چه هغوی له ووټ ورکړے وو. د غریبے کورنئ سره ئے تعلق ساتلو خو هغه خلقو په دے وجه خوښولو چه هغه یو عوامی سړے وو. زه به دے باره کښے ډیر په فخر سره دا خبره کوم چه که هغه د دے اسمبلئ ممبران دی، که هغه د دے پختونخوا ماشومان بچی دی، که هغه د دے پختونخوا ښځے دی او که هغه په دے پختونخوا کښے سړی دی، په کومه بے دردئ سره شهیدان کړے شوے دی، زه دے خلقو ته دا Messageورکوم چه دا خلق پښتانه دی او دا پښتانه په داسے قسمه خبرو باندے تاسو نه شئ یرولے. که د دے خلقو دا خیال وی چه دا پښتانه به مونږ په داسے طریقه ځائے په ځائے قتل کوؤ او دوئ به شهیدان کوؤ. په دے وخت کښے مونږه په حالت جنګ کښے یو، مونږ له پکار

